SHARIAT WEEKLY
شریعت اوونیزه
په اوونی کې دوه ځله خپرېږی
دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارګان
څلورم کال شپږ اتیایمه ګڼه پرله پسې (۲۷٦) چهارشنبه د ۱٤۲۰هـ ق کال دشعبان المعظم (۹) د۱۳۷۸هـ ش کال د لړم دمیاشتي (۲٦) د۱۹۹۹میلادي کال د نوامبر (۱۷)

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ ناسي !، همدا (عدل) ډېر نږدې دی تقوا(پرهیزګاری) ته.
(سورة المائدة)

توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بی حرمتی بگذارید.

د پلان محترم وزیر د ملګرو ملتو له لوړ رتبه هیئت سره وکتل

د پلان وزیر محترم قاري دین محمد حنیف پرون د خپل کار په دفتر کي د ملګرو ملتو د سازمان له لوړ رتبه هیئت سره وکتل.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ په اسلام اباد کي د افغانستان لپاره د ملګرو ملتو د سازمان د بشري مرستو د رئیس او ناظم محترم اریک دیمول په مشري د ملګرو ملتو د سازمان دري کسیز لوړ رتبه هیئت پداسي حال کي چي د ملګرو ملتو د سازمان د پرمختیایي پروګرامونو رئیس محترم جولین لیزلي ورسره و د پلان له محترم وزیر سره د کتني په ترڅ کي د علاقي وړ مسالو په باب د خبرو په ترڅ کي په کابل کي د ملګرو ملتو د سازمان د دفترونو لپاره د افغانستان د اسلامي امارت لخوا د امنیتي تدبیرونو د نیول کیدو له امله قدرداني وکړه.

وریسي د پلان محترم وزیر د موضوع په باره کي خبري وکړي او د ملګرو ملتو د سازمان د دفترونو د امنیت د تامینولو او همغوي ته د زیانو فعالیتونو د برابرولو په برخه کي د اسلامي امارت د چارواکو لازیات تیاري څرګند کړ.

اعلامیه مقام امارت اسلامي افغانستان به ملت مومن افغانستان:

خداوند "ج" ما را هست نموده و وعده رزق را هم با ما نموده است

کلنتن و رفقاي وي نه براي ما رزق داده میتواند و نه هم رزق را که خداوند "ج" مقرر نموده بند کرده میتواند

خواهش من از تمام شما اینست که دیگر مظاهره ننمایید و از صبر و حوصله کار بگیرید

مردم مجاهد و مسلمان افغانستان السلام علیکم و رحمت الله و برکاته.

طوریکه در شرایط فعلي بخواست امریکاییان و بواسطه سازمان ملل متحد مصایب و آلام کشور هاي اسلامي افزایش یافته است که در این جمله بفرمایش کلنتن و دیگر عناصر اسلام دشمن سازمان ملل متحد بالاي مردم رنجدیده و مظلوم افغانستان بعضي تعزیرات اقتصادي را نافذ نموده اند که باعث تحریک قهر و احساسات تمام امت مسلمه گردیده و هر روز به هزاران نفر از مسلمانان در نقاط مختلف بمظاهره مي پردازند که سلسله تظاهرات جریان دارد از اینکه الله تعالي ما را هست نموده و وعده رزق را هم با ما نموده است مګر کلنتن و رفقاي وي نه براي ما رزق داده میتواند و نه هم رزق را که خداوند مقرر نموده است بند کرده میتواند و نه ایشان آنقدر بشر دوست و با عاطفه اند که بخاطر راه اندازي مظاهرات بالاي مردم رنجدیده و مصیبت دیده افغانستان رحم نمایند.

خواهش من از تمام شما این است که دیگر مظاهره ننمایید و از صبر و حوصله کار گیرید و با عزم و حوصله حکم اسلامي خویش رضاي خداوند بزرگ را حاصل نمایید و از بارګاه خداوند بزرگ براي این ظالمان جزا و انتقام بزرگ عبرت ناک را استدعا نمایید.

والسلام

په ننګرهار کي په لسو تنو حافظانو د فضیلت پګړي وتړل شوي

د ننګرهار ولایت د [illegible] دارالعلوم د مدرسي د قرآن عظیم الشان د لسو تنو حافظانو د فضیلت پګړي [illegible] په ترڅ کي وتړل شوي.

د باختر اطلاعاتي آژانس [illegible] په هغې غونډه کي چې له [illegible] کي جوړه شوی وه [illegible] ریاست مرستیال محترم مولوي [illegible] الحدیث محترم ملا [illegible] مسؤل محترم مولوي عبدالوکیل فاروقي او محترم قاري انصار الله د قرآن عظیم الشان د حفظ او تلاوت د فضیلت [illegible] وروسته یې د حافظانو د ارزښتناک رول په باره کي [illegible] ٤ مخ

د تاجکستان جمهور رئیس د وفا داري لوړه وکړه

د تاجکستان جمهور رئیس امام علي رحمانوف چي د [illegible] انتخاباتو کي بریالی شو پرون د وفاداري لوړه وکړه.

په تاجکستان کي د جمهوري ریاست دوره [illegible] د تاجکستان د جمهور رئیس د وفاداري د لوړي په مراسمو کي د روسیې صدراعظم هم ګډون کړي و. [illegible]

محترم وزیر حج و اوقاف با همتاي سعودي اش ملاقات بعمل آورد

محترم حافظ محب الله وزیر حج و اوقاف قبل از ظهر دیروز با محترم حاتم بن حسن القاضي وزیر حج و اوقاف کشور عربستان سعودي در آنکشور ملاقات بعمل آورد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد: طي این ملاقات در حالیکه محترم حافظ شبیر احمد قونسل امارت اسلامي افغانستان درشهر جده و محترم مولوي خیر محمد نیز حاضر بودند طرفین در رابطه به اداي مراسم حج بیت الله شریف و رفع مشکلات حجاج افغاني صحبت و تبادل ص ٤

د پکتیا ولایت د وزي ځدراڼو په ولسوالي کي:

د یو شمیر دیني عالمانو او د قرآن عظیم الشان د حافظانو د فضیلت پګړي وتړل شوي

د پکتیا ولایت د وزي ځدراڼو ولسوالي د سراني د سیمي په جامعه صدیقة العلوم کي په دي وروستیو وختو کي د یو شمیر دیني عالمانو اود قران عظیم الشان د حافظانو د فضیلت پګړي وتړل شوي.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ په هغي غونډه کي چي له همدي امله ٤ مخ

دیروز در شهر کابل:

حکم اعدام بالاي یکتن قاتله در محضر عام تطبیق گردید

حکم اعدام بالاي یکتن قاتله دیروز در محضر هزاران تن از هموطنان ما بعد از فیصله محاکم ثلاثه، ابتدائیه و مرافعه ولایت کابل و تمیز ستره محکمه و تایید عالیقدر امیر المؤمنین در ستدیوم ورزشي کابل تطبیق گردید.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد [illegible] اصلي ولسوالي [illegible] ص ٤

بمنظور غنامندي هر چه بیشتر مسایل ادبي و فرهنګي:

جلسهء در ولایت بلخ دایر گردید

بمنظور غنامندي هر چه بیشتر مسایل ادبي و فرهنګي دیروز جلسه در تالار رادیو شریعت ولایت بلخ دایر گردید.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر داد: در این جلسه که به اشتراک شاعران، نویسنده گان و ادیبان دایر گردیده بود ابتداء محترم مولوي ص ٤

سازمان ملل متحد به شرکت خود در گناه و مسؤولیت و کشتار مردم در بوسنیا اعتراف کرد

سازمان ملل متحد به شرکت خود در ګناه و مسؤولیت کشتار مردم شهر [illegible] واقع در شرق جمهوري بوسنیا هرزگوینا اعتراف کرد.

کوفي عنان سرمنشي سازمان ملل متحد [illegible] ارائه گزارش کار سازمان مذکور گفت [illegible] منطقه تحت الحمایه سازمان ملل متحد [illegible] سال ۱۹۹۵ میلادي صورت گرفت [illegible] و ارزیابي غلط سازمان ملل متحد [illegible] شرایط و اوضاع آن وقت نیز بود.

در آن زمان نیرو هاي [illegible] ص ٤

در اثر طوفان هاي شدید در هند ۹۵۲٤ نفر به هلاکت رسیده اند

طبق اطلاعیه اخیر دوایر دولتي هند در اثر طوفان هاي شدید در ایالات شرقي آنکشور اوریسه و بنګال غربي نه هزارو پنجصد و بیست و چار نفر به هلاکت رسیده اند و در حدود یك ملیون و چار صد هزار نفر بي سرپناه شده اند.

د کابل پوهنتون د کرنی په پوهنځی کی ۳۷۰ تنه محصلین په زده کړه بوخت دی

شریعت: د کابل پوهنتون د کرنی پوهنځی په ۱۳۳۵ هـ ش کال کی پرانستل شوه او تر اوسه پوری یې د نوی عصری کرنی په برخه کی زیات شمیر محصلین تولنی ته د خدمت په خاطر وراندی کړی دی.

نوموړی پوهنځی څلور کلنه تحصیلی دوره لری چی په دوه لومړنیو کلونو کی په عمومی توګه او په دوو وروستیو ٤ مخ

په جرمنی کی استوګن افغان محترم داکتر محمد هاشم بابر له شریعت اوونیزی سره په مرکه کی:

په جرمنی کی میشت هیواد وال د اسلامی امارت په کارنامو ویاړی

په افغانستان اقتصادی بندیز د امریکا په اشاره نافذ شویدی

درنو لوستونکوا په جرمنی کی اوسیدونکی افغان لیکوال او د ملی کلتور یو تن خادم محترم داکتر محمد هاشم بابر افغانستان ته تشریف راوړی دی چی د شریعت اوونیزی خبریال له فرصت نه په ګټی اخیستی ورسره د څو مسایلو په هکله مرکه کړیده چی لوستلو ته یې ستاسو پام را اړوو.

پوښتنه: د تعامل له مخی [illegible] ۳ مخ

نیرو هاي روسي به جنایات خود در چیچن ادامه میدهند

در حالیکه روسیه به تقویه نیرو هایش به منظور آماده گی [illegible] پایتخت چیچین ادامه میدهد نگراني ها در باره وضع هزاران مهاجر چیچني [illegible] انگوشیا بسر میبرند افزایش یافته است

قرار گزارشها وضع صحي در کمپ هاي مهاجرین [illegible] صحي میگویند هفتاد فیصد اطفال در کمپ هاي مذکور [illegible] شده اند و تعداد از مهاجرین از امراض [illegible] ص ٤

طیارات رژیم اشغالګر اسرائیل مناطق ازاد شده در جنوب لبنان را بمباران کردند

طیارات اشغالګر رژیم اسرائیلي دیروز مناطق آزاد شده در جنوب لبنان را بمباران کردند.

به قول منابع امنیتي لبنان توپخانه دور برد رژیم صهیونستي نیز مناطقي را در جنوب لبنان بمباران کردند تا کنون در باره تلفات و خسارات ناشي از این حملات وحشیانه اطلاع داده نشده است.

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

اوس به څه کیږی ؟

اوس خود کلنتن د اداری دا یو ارمان پوره شو چی په ټول کلنی جګړی ځپلو افغانانو بی د اقتصادی بندیزونو پریکړه د امنیت په شورا ومنله او آیل پروان په عمل کی پلی شوه؛ د پریکړی منظوری چی د رابو په اتفاق اعلان شوه دا پوښتنه راپورته کوی چی د بشری حقونو په خلاف، دوران ویجاړ افغانستان د ځوریدلی ولس په خلاف او د ډیرو مثل شوو نورمونو په ضد دغه پریکړه څرنګه د رابو په اتفاق ومنله شوه ؟ آیا د شورا په ګنو غړو کی چی پاخه سیاسټوال دی دومره څوک نه وو چی پریکړه بی د نقد په تله کی اچولی وای او د هغی په خلاف بی اواز پورته کړی وای ؟

هوا داسی څوک به هرو مرو وو، خو یا به بی چا غږ نه ۲ مخ

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لانده ی
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : محمد داد
دبري ګڼي بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱
جاري حساب : ٤۰۳۸٥/۷ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالي پاتي برخه

وی اوریدلی او یا به یی د امنیت شورا د ویټو واکمنو له ویری څه ویلی نه شوای ، که هر څه وی دغه پوښتنه له کتونکو سره یی ځوابه پاتی ده او همداسی به پاتی وی، خو دا باور اوس له هر چا سره شته چی د ویټو واکمن غړی اوس د ملګرو ملتونو په موسسه باندی هر څه منلای شی او هر څه چی وغواړی هغه وړباندی کولای شی، نور نو هلته د تعقل، استدلال او مشوری فضا ختمه کړل شوی ده .

له کتونکو سره یله مهمه پوښتنه دا ده چی د امریکی حکومت د یوه معمول سړی (اسامه) کیسه (قصه) د څه لپاره د بین المللی کمپاین کچ ته ورسوله ؟ سره له دی چی که په دغه هکله د امریکی حکومت څه شکونه درلودلای باید د خطر احساس کولای نو په کراره به د افغانستان له واکمنو (اسلامی امارت) سره د یوه اسانه تفاهم په ترڅ دا هر څه حل شوی وای، بیا نو ولی د امریکی حکومت دغه وړه خبره دومره غټه کړه چی اوس یی له یوی خوا ټول هغه امریکایان چی په نورو هیوادونو کی ووسیږی له ویری او د خطر له احساس سره مخ کړل، د هغوی ویره هغه وخت لا پسی زیاته شی چی واشنګټن تل په هغوی باندی د احتیاط کولو او ځان ساتنی غبږونه کوی،په دغه تګلاره کی د واشنګټن که هر حکمت (!) وی هغه ښکاره نه دی، پرته له دی چی که په نړۍ کی هره ستونزه پیښیږی نو د واشنګټن، روس او ... د لاس پاکولو ځای به جوت وی، له بلی خوانه یی امریکایان له دغو تورو نو سره مخامخ کړل چی امریکه له اسلام سره دښمنی لری ویل کیږی چی هر کله د افغانستان اسلامی امارت په هیواد کی اسلامی شریعت نافذ کړ نو ځکه امریکا دښمنی ورسره پیل کړه او خبره یی بندیزونو اوخوایدی ته ورسوله، که د اسلام دښمنی نه وی نو بیا یی ولی ځان ته دومره کړاو په لوی لاس پیدا کړ ؟

بله دا چی د افغانستان او امریکا د ولسونو تر منځ له پخوا نه بنی اړیکی او راشه درشه وه، بیا چی د شوروی د تیری په وخت کی د امریکی د هغه وخت حکومتونو په هغو سختو کلونو کی کلک ملاتړ او هر راز مرستی له افغانانو سره کړی د امریکی په هکله د افغانانو نیکی هیلی او پیرزوینی لا پسی زیاتی شوی ، نو بیا ولی د امریکی اوسنیو واکمنو هغه ګټلی پیرزوینی په لغته ووهلی او د افغانانو کرکه او نفرت یی راوپاراوه چی اوس مظاهری او لاریونونه کوی، په امریکایانو بد وایی او بیرغ یی سوځوی ؟

بله دا چی افغانانو په خپلی زیاتی قربانی سره نړی د شوروی له خطر نه وژغورله په تیره بیا امریکایی د تاوده او ساړه جنګ له سردرد نه خلاصه کړه مناسبه خو داوه چی د افغانانو د احسان منته شوی وای او په مکافات کی یی د هیواد په ودانولو کی مرسته ورسره کړی وای، وران ویجاړ زراعتی او اقتصادی بنستیونه یی ورته په پښو کړی وای د هغه هر څه په ځای یی بندیزونه ، ستونزی او کړاوونه ورته را مخی ته کړل دا ولی ؟

د کتونکو بله پوښتنه دا ده چی افغانان خو به د اقتصادی بندیزونو له امله هرو مرو زیانمن شی او زیات به خوا بدی هم شی مګر د خپل مذهب، رواياتو او رواداودونو په خلاف نه څه منلی شی او نه له څه تیریدلای شی، که چیرته ددغو بندیزونو په پایله کی امریکه خپل مطلب تر لاسه نه کړای شی نو بیا به خامخا د یو بل داسی څه په لټه کی وی چی په سیمه او افغانستان کی یوه بله ستونزه او کړاو رامنځ ته کړی، په هغه پسی بله، او په هغه پسی بله، نو ایا اخیر به د امریکی حکومت په بنده کوڅه کی را ایسار نه شی.

که داسی کیږی او دا به خامخا کیږی- نو د امریکی حکومت دی له دا اوس فرصت نه - چی بیخی له لاسه نه دی تللی - ګټه واخلی او هغه غوته چی په لاس خلاصیږی خولی ته دی یی نه وړی؛

دا خو د کتونکو پوښتنی او مشوری وی، د افغانستان اسلامی امارت اوس هم د امریکی لپاره آسانه لاری پیدا کولای شی که چیرته له ضد څخه لاس اخلی او د سم سوچ لاره ونیسی په هغه صورت کی به هم له اوسنی بی خونده تګلاری نه خلاص وی او هم به خپل سیاسی وقار بیرته خوندی کړای شی.

د امیر عبدالرحمن خان په دوره کی د پوهنی لړی ته یوه ځغلنده کتنه

وحید الله غازی خیل — دویمه برخه

د ۱۸۸۰ عیسوی کال په جولای کی چی سردار عبدالرحمن خان پاچا شو یو ځل بیا یی د ورانی شوی اداری جوړولو ته لاس ور اوږد کړ او په دی بیا رغاونه کی د پوهنی بیا شروع هم شامله وه څرنګه چی میر غلام محمد غبار په خپل یو علمی او تاریخی اثر «افغانستان در مسیر تاریخ» کی لیکی چی په مطلقه حکومتونو کی د پاچا امر قانون او هر څه وی نو ځکه تصمیمونه دی کوی امیر عبدالرحمن خان یو مطلقه واکمن و چی ټولی چاری یی په خپله پر مخ بیولی او په دی لړ کی د ښوونی او روزنی په اړه هم ټول کارونه ده پخپله کول، دلته زه غواړم چی لومړی د ده پخپله علمی کچه هم لږ څه رڼا واچوم او وه به ګورو چی د امیر خپله د مطالعی، او علمی ذوق کچه څومره ده امیر عبدالرحمن خان په کوچنی توب کی له لیک لوست نه کلکه کرکه کوله خو په عوض کی یی له عملی زده کړو سره مینه ډیره وه د خپل پلار په کارخانو کی یی کار کاوه چی دوه توپک سر تر پایه ده په خپله جوړ کړی وو ، خو کله چی په ځوانی کی یی د تره لور چی چنغله «نامزده» یی هم وه لیک ورته ولیږه او تری وی غوښتل چی ځواب یی پخپله ورته ولیکی دی خبری ده ته ډیر ژور تکان ورکړ او دده د وینا له مخی د شپی یو سپین ږیری په خوب کی وینی چی ورته وایی ولیکه دا خوب دری ځله تکراریږی او بیا چی را پاڅیږی د زدکړی توری ټول وریادیږی د خپلی چنغلی ځواب په خپله لیکی، عریضی په خپله لولی، امرونه په خپله ورکوی بیا نو مطالعی ته هم ادامه ورکوی او عملی زده کړو ته هم، ددی تر څنګ د ځان لپاره یو څوک ټاکی چی هره شپه یی له څنګ سره کښینی او کتابونه ورته ولولی په دی کتابونو کی د بیلا بیلو هیوادونو ملتونو تاریخونه، جغرافیه، د پاچاپانو او لویانو حالات او سیاسی کتابونه شامل وو چی ده به د ویده کیدو تر وخته په دقت غوږ ورته ایښووه، له ویده کیدو سره بیا یوه کیسه ویونکی دده سرته کیناست او تر سهاره به یی د ده د ویښیدو تر وخته کیسی ورته ویلی ده ته په زرهاوو کتابونه اوورول شوی وو او هره ورځ به یی د ترقی او علم د زده کړی لپاره نوی سبق تری اخیست همدارنګه کیسی به که هر څو واهی او له باطلو عقیدو ډکی وی خو دی به هم د پخوانیو خلکو له طرز تفکر څخه خبریده او دا نتیجه به یی تری اخیسته چی بشر له هغی وخته تر اوسه څومره پر مختګ کړی دی دی وایی کله به چی په لوړ غږ کیسه اوورول کیده د اعصابو آرامی به یی وربښله ، له هیاهو سره به رویدی کیده او وایی چی بیا یی د جنګ په ډګر یا بل تنا آرامه ځای کی هم آرام خوب کولای شوای ده له همدی لاری ددی توان وموند چی پخپله کتابونه تالیف کړی، لکه پندنامه دنیا و دین، مرآت العقول او نور هم یی له همدی لاری د پښتو لاری د پښتو، فارسی، روسی ، عربی او هندسی ژبو تکلم او لیک لوستل زده کړی وو په دی توګه ده د زده کړی لپاره هیڅ فرصت له لاسه نه وو ورکړی.

د افغانستان نامتو لیکوال او شاعر قدرمن استاد حبیب الله «رفیع» پخپل یو علمی اثر کی لیکی چی امیر عبدالرحمن خان د خپلو زامنو او لمسیانو د روزنی لپاره خاصه پاملرنه کوله او له ماشومتوب نه یی یو روزنیز پروګرام ورته ټاکلی و، د زیږیدو له ورځی نه به یی دایی ورته مقرروله چی شیدی به یی ورکولی او د ورځی یو دوه ځلی به یی خپلو میندو ته وروړل او کله کله به یی په خپله امیر ته هم وروړل له یو کلنی نه یو تن اخوند ، یو ښوونکی، یو لاله، نوکران ساتونکی او داسی ځانګړی کوروته چی وری وری باغچی یی وی ورته ټاکلی کیدل چی تل یی دایی ګانو، ښوونکی او لالاګان هغه دولتی منصبداران وو چی په پاخه عمر او تر تجربی وروسته تقاعد شوی وو او امیر وظیفه ورکړی وه چی د کورنی ماشومان ښه په دقیقه توګه وروزی او ده ته مسؤل وی خو د بل پلوه «افغانستان در قرن نزده» کی سید قاسم رشتیا هم دی نظر ته ورته نظر لیکی او وای چی امیر عبدالرحمن خان په دی باورو ه که چیری دغه ماشومان یی له میندو سره پاتی شی ددی احتمال شته چی وخت یی ضایع شی او په پای کی شریر او احمق را منځته شی پدی ترتیب نو د امیر زامن او لمسیان ټول په معقول ډول ښه روزل شوی و په شهزادګانو پسی د غلام بچه ګانو د روزنی وار و خو دا هم باید په ډاګه شی چی غلام بچه ګان د کلمی په اړه نه بلکه دا د هیواد د هغو مخورو، خانانو، ملکانو زامن وو چی امیر عبدالرحمن خان تری راوستی وو خو پته مو څه یا هدف یی دا و چی دا ځوانان به له پاچا سره د برغمل په توګه وو او پلرونه به یی په بغاوتونو کی ونډه نه شوی اخیستی خو مخورو او ملکانو او خانانو په دی ویاړ کاوه چی زموږ بچیان پاچا غوښتی او یا ورسره دی خو په رښتیا چی دوی د پاچا دربار کی وو چی درباری آداب یی زده کول روزل کیدل او د سبا د اداری لپاره د کدرونو په توګه وړاندی کیدل د دوی لپاره خاصی سپاره او ساکنی ښونځی جوړ شوی وو پاچا به که په کورو که په سفر د غلام بچه ګانو لپاره به یی تل ښوونځی ورسره وو او دوی به په دی ښوونځیو کی خپل دینی مکلفیتونه دینی مسایل، تاریخ، جغرافیه هندسه بهرنی ژبی نښه ویشتل او نور زده کول یوه ډله به چی د پاچا په خدمت کی وه بلی ډلی به درسونه ویل او کله به چی لوی او له ښوونځی څخه فارغ شول په دولتی چارو به ټاکل کیدل په دریم قدم کی د منصبدرانو زامن وو چی د هغوی لپاره یی د نظامی زده کړو مرکزونه جوړ کړی وو ، دوی ته نظامی مشقونه او عملونه ورښودل کیدل او د علم تر تحصیل وروسته په لښکرو کی مقرریدل. په څلورم قدم کی د نورو خلکو د زامنو د روزنی لپاره هم ښوونځی دایرو او خلکو هم د عنعنه یی مدرسو او زده کړو ودی ته پاملرنه وکړه ځکه حکومت په هر کار کی د چا د شاملیدو لپاره د ازموینی شرط کیښود. د ازموینی شرط دومره حتمی وو چی د امیر عبدالرحمن خان د خپلی وینا له مخی حتی. قاضیان او ملایان هم بی له ازموینی په کار نه ګومارل کیدل او د شرعی، احکامو د اجرا کولو اجازه یی نه درلوده البته تر ازموینی وروسته به یی د ممتحینینو په لاسلیک تصدیق ورکاوه او بیا به کار ورسپارل کیده او پاچا به توصیه کوله چی د هر کار لپاره تعلیم لازم او واجب دی .

په چیچنیا د روسی پوځ د یرغل تر شا

محمد سهیل

په چیچنیا باندی د روسی د پوځی یرغل تر شا د ډیرو ناصتو غربی هیوادونو موافقه هم شامله وه دوی غوښتل چی د روسی پوځ په متی په چیچنیا کی د دوی په اصطلاح د اسلامی بنسټ پالنه له منځه یوسی. همغه و چی د کریملین سردمدارانو د روان کال د سپټمبر د میاشتی په پنځمه نیټه د چیچنیا په خپلواک هیواد هوایی یرغل پیل کړ د روسی د پوځ پلان جوړونکو په کوسوا او یو ګوسلاویا باندی د ناټو د هوایی بریدونو په شان د چیچنیا په مسلمان ولس بمونه واوورول ځکه چی د بلقان په جګړه کی د ناټو تلفات ډیر کم وو او د میلاسوبیچ حکومت ته یی ډیر تلفات اړولی وو لاکن روسان د ناټو نه هم یو قدم مخکه لاړل هغوی د چیچنیا په عام ولس د سکډ توغندی وویشتل او په سلګونو بی دفاع انسانان یی په وینو کی ولمبول.

د ولږ ایزو وسایلو د شمیری له مخی روسی پوځ د همغه پیل راهیسی د څلور زرو نه زیات کسان شهیدان کړی دی. د چیچنیا ولس مشر اسلان مسخدوف په یوه بیانیه کی د نړی نه غوښتی چی د چیچنیا ولس د روسانو په لاس د قتل عام نه وژغوری نوموړی وایی « د هیواد او د الله «ج» په وړاندی د مسؤولیت درلودلو په اساس د نړیوالو نه غواړم چی د روسانو په لاس د چیچنیا خلک د تباهی نه وژغوری»

لاکن روسانو په شدت سره د چیچنیا چارونه او کلی د میزایلو او توپونو هدف ګرځولی دی او له هوا نه پری بمونه او میزایل اوروی . پدی هکله مسکو د هیچا انتقاد ته غاړه نه ږدی او د چیچنیا مسئله د روسیی داخلی مسئله بولی.

غربی هیوادونه په ورو، ورو متوجه کیږی چی په چیچنیا باندی د روسیی د پوځ د برید په نتیجه کی روسی نشنلیزم سر راپورته کړی. دوی ویریږی که روسیه په چیچنیا پوځی بری تر لاسه کړی، نو د تزاری روسیی په څیر به په نورو ځایونو کی هم پوځی ماجرا جویی ته لاس واچوی.

که داسی وشول. نو ددی پدیدی په راڅرګندی کولو کی به د غرب لوی لاس وی. غربی هیوادونو روسیی ته د اقتصاد د رغونی لپاره سل میلیارده ډالر پور ورکړی دی. که دغه ډالر د مسکو په جیب کی نه وای، نو نن به روسانو په چیچنیا کی پوځی کاروایی نه کوله ځکه د غرب له مرستی نه پرته روسیه د څرګند اقتصادی سقوط سره مخامخ وه .

اوس مسکو هڅه کوی چی غرب تشویق کړی د نوموړی پور او یا فیصده ورته معاف کړی او پدی ډول خپلی وحشی پنجی نوری هم د چیچنیا د مظلوم ولس په مری کی خښی کړی د افسوس خبره ده چی په نننی متمدن دور کی ، سره ددی چی غرب ځان د بشر د حقوقو بوازینی ګتندوی بولی، د غرب په ډالرو او د روسیی په نظامی تجهیزاتو د چیچنیا ننګیالی اولس بی دریغه قتل عام کیږی او ددی زړه دردوونکی پیښی په هکله د نړی د اسلامی هیوادونو د حاکمانو د دریغ نه داسی جوتیږی چی دوی نه څه اوری او نه یی وینی.

په جرمني کي میشت هیوادوال د ...

لومړی باید ځان راوپیژنی ؟

ځواب : نوم می محمد هاشم بابړ او په جرمنی کښی می په ریاضی کښی ډاکتری اخیستی یوولس کاله د گیسن په پوهنتون کی وم او پنځلس کاله کیږی چی د پولکس واگون په کمپنی کښی چی موټر جوړوی ، د سیستم په جوړولو او کمپیوتر عملی کولو کی د یوه مسول په توگه د لارښوونکی دنده تر سره کوم.

پوښتنه : که څه هم له یو افغان څخه دا پوښتل چی ولی یا د څه لپاره مو افغانستان ته سفر راوکړ پوښتل به بی ځایه وی خو بیا هم که د سفر د مهمو انگیزو په هکله موراته څه ووایی ښه به وی ؟

ځواب : دا به ښه وی چی دا متل تیر کړم « هر چاته خپل وطن کشمیر دی » له هغی ورځی چی زه جرمنی ته تللی یم نو خپل وطن می یو شیبه هم له یاده نه دی وتلی خو له بده مرغه کله چی زه د زده کړی له پاره جرمنی ته لاړم نو په هیواد کښی بدلونونه راغلل زه بیرته نه شوم راتلی. اوس شکر دی دلته امن او کراری ده نو خدای «ج» زما غوښتنه قبوله کړه او د وطن دیدن می په نصیب شو. که څه هم په جرمنی کښی ژوند اسانه او په مادی ډول ډیر ښه دی خو زه بیا په هیواد کښی د هغه ځای څخه ډیره خوښی احساسوم .

پوښتنه : په جرمنی کی دافغانانو د ژوند حالت د څرنگوالی په اړه معلومات راکړی ؟

ځواب : زه په جرمنی کښی اوسیدونکی هیواد وال پر دری برخو ویشم، لومړی هغه چی هغوی جرمنی ته د زده کړی له پاره تللی و او هلته یی خپله زده کړه سرته رسولی او اوس د جرمنی په دولتی او ځانگړو ادارو کښی دندی لری او ژوند یی نسبتاً هوسا دی او دا برخه پوه خلک د هیواد سره ځانگړی مینه لری.

دوهمه برخه هغه هیوادوال دی چی د کمونستانو او روسانو په وخت کی جرمنی ته راغلی دا خلک د مهاجرو په توگه په جرمنی کښی منل شوی، خو دوی په جرمنی کی کار نه شی کولای، دا ځکه چی دوی په هیواد کښی زده کړه کړی وه او هغه زده کړه د جرمنی په معیار نه ده . دغو هیوادوالو ته د جرمنی دولت د ژوند ښستیزی اسانتیاوی ورکوی گڼ شمیر هیوادوال ددی مرستو سربیره دلا ښه ژوند کولو په هڅه کښی نور کارونه هم کوی.

دریمه برخه هغه هیواد وال دی چی د نجیب رژیم له سقوط وروسته جرمنی ته تښتیدلی او ډیر شمیر یی کمونستان دی او ډیر یی د جرمنی دولت د مهاجر په توگه نه دی منلی، دوی یی په عسکری ډوله قاغوشونو کی ساتلی چی د یوی محدودی ساحی څخه بل ځای ته نه شی تللی. دوی ته « کور ، کالی ډوډی؟! » او یو څه جیب خرڅ هم ورکوی.

پوښتنه : په جرمنی کی اوسیدونکی افغانان د افغانستان د اسلامی امارت په اړه څه نظر لری ؟

ځواب : بیا هم په جرمنی کښی زه هیوادوال په دری برخو ویشلی ویشم. لومړی هغوی چی هرڅېچی طالبان کوی دا د

٤ مخ

زندگی حقیقی

تاج محمد «احمد زاده»

زندگي چيست؟ زيستن براي خود زندگي نيست، زندگي مانند زندگـان بودن است. زنده گي به سوي انسانيت شتافتن، رمز آدميت را يافتن ، گوهر جان را به زيور علم و اخلاق آراستن، چون شمع سوختن و بزم ديگران را افروختن است.

خورد و خواب و گشتن زيست نيست، زبونيست، دردمندي و بيچاره گي است كه ننگ است زنده ماندن و بيچاره زيستن بايد گريست بحال آدميزاده شكلي كه دنيا را مي خواهد تا بخوابد و كام راند و دست افشاند، و سر انجام همچون جانوران پست در حال مستي و بي خبري جان سپارد.

آفريدگار عالم آدم را بيهوده و عبث نيافريده است . او را آفريد تا خلاقيت خويش را بستايد، او را آفريد تا آفرينش خويش را بكمال رساند، و قدرت نمايي فرمايد، خواست تا رحمانيت و رحيميت خود را بر او آشكار سازد.

اوست كه از هيچ همه چيز ساخت و زمانيكه گل آدم را ريخت از روح آفريده خود در او دميد، تا اگر روزي بسوي حقيقت گرايد و پرده از چهره انديشه بربايد راز آفرينش را دريابد بي مايه نباشد. از دانش كبريايي خويش قطره يي او را نصيب كرد عشق را به او عطا فرمود تا براي طائر جانش همچون پرو بالي باشد و بتواند بر فراز ملكوت پر گشايد و از خلوت نشينان سرادق لاهوت دل بربايد.

آري! خداوند آدم را بيافريد تا خليفه او در زمين باشد و چنين نشود آناني كه تباهي ميورزند و در زمين فساد ميكنند، آدم نيستند. ددائي آدميزاده شكلند. گرگاني ميباشند كه به جامه، آدم در آمده اند اينان زندگي را صحنه بازي مي انگارند و مي پندارند باينجـا آمده اند كه هر كاري حسب خواهش خويش بكنند. و چنين مي انديشند كه زمين و آسمان براي آنان آفريده شده، خورشيد بخاطر آشكارا كردن نمايش خورد و خواب آنان طالع ميشود، اينان بي خبر از خود و همه چيز و همه جايند، جز بهواي نفس خويش نمي انديشند. پس اينان چه كسان اند و چه ميخواهند ؟! آيا سراپرده بي چنين را سرسري مي پندارند ؟ چرا در درياي غفلت غوطه ميخورند ؟ خودشناسي خيلي مشكل است .

آدم وجود عجيبي است منشأ بروز همه قدرت هاست. خداوند«ج» او را با جثه، ناتوان انديشه بي توانا بخشيد كه بوسيله آن بتواند به حقايق عالم دقيق شود . و رموز طبيعت را دريابد. با اختيار و اراده، كه خداوند«ج» به او داده ميتواند در زندگي پيروز گردد آدمي كه در درياي هوس خويش مستغرق بوده و جز به تمايلات نفس فكر نميكند همه چيز را بكام خود ميخواهد براي خودش خدايي هم در زمين مي سازد و با ساخته خود راز ميكند بي خبر از آنكه خداوندي كه آفرينش جان و جهان بدست اوست و از رگ گردن به بنده اش نزديكتر است و از مادر مهربانتر. كسي است كه جنبش انديشه راد ر شريان هاي باريك مغز مي بيند، دانا و تواناست و محيط است بر همه چيز و همه كس !

براي اينكه خداوند«ج» را بشناسيم اول بايد خويشتن را بشناسيم براي خود شناسي بايد دانش اندوزيم با اخلاق و ايمان در راه انسانيت گام برداريم. از بدي ها بپرهيزيم و از پليدي ها بگذريم بكوشيم تا خوب باشيم . هر چه براي خود خوب ميدانيم همان را براي سايرين مطلوب شناسيم.

كاري جز صلاح همنوعان انجام ندهيم و بخواهش هاي نفس دل ننهيم ، گوهر جان را با تباهكاري ها تباه نسازيم و دل را كه مهبط نور خداست از غفلت تار ننماييم تا بتوانيم بر خود لقب انسان نهيم و بگوييم زندگي ميكنيم يعني زنده ايم براي اينكه راحت رسان ديگران باشيم و بكوشيم جان را زيور انساني بخشيم. بنا بر اين زندگي مفهومي جز اين ندارد.

دين مقدس اسلام در راه اعتلاي بشر بسوي آدميت خيلي كوشيده است و راه انسان شدن را به آدم آموخته است. اما افسوس كه حقيقت دين را از ياد برده ايم «كلو و اشربوا» را در گوش كرده « ولا تسرفوا» را فراموش نموده ايم.

آري، با اوهام و خرافات كه دين ما دشمن آنست طرح دوستي افگنده ايم.و با حرص و آز و كبر و غرور كه با انسان بودن تفاوت دارد همگاميم.

آدم ممكن است به هر مرحله برسد و هر مقامي بدست آرد اما انسان نباشد، كه مفهوم زندگي حقيقي در بحرش به تموج آمده است، كه هر موجودي زيبنده آن نمي باشد.

آري انسان كسي است كه خود را بشناسد و بمفهوم زيست حقيقي پي ببرد تا آفريدگار جهان را بداند، وقتي خدا را دانست آنگاه مي فهمد چگونه بايد در دنيا زندگي كند.

از درد درماندگان مينالد.

چون شمع ميسوزد و روشني بخش تاريكيها ميگردد. مانند بلبل مينالد و سايرين را خوشدل مي سازد. همچون نسيم ميلرزد و در عواطف ديگران رسوخ مينمايد. از مهر چون ماه مي درخشد و به شام تيره روزان روشني مي بخشد .

اسلامي نړۍ او د نصرانیت دامونه

محمد حسن فیروزخیل

انسان په اجتماعی ژوند کی کله له داسی تاریخی پیښو او حادثو سره مخ کیږی چی هغه مجبور کیږی د انسانی احساساتو له مخی ټول هغه ظلمونه، تیری او ناروا وی چی پخپلو سترگو وینی او یا یی هم آوری بغیر له کوم ډار، بیم، گواښ او ورته خطرونو څخه کټ مټ بیان او ټولنه پری خبره کړی .

څرنگه چی په وروسته پاتی هیوادونو کی چی کمپیوتر، سټلایت، او مصنوعی سپوږمی نلری نو وگړی یی پخپل منځ کی هم او له نړیوالو حالاتو څخه هم نشی خبریدای ان تر دی چی د ورځنیو لویو پیښو او خطرناکو حوادثو څخه نشی خبریدای. په روانه شلمه میلادی پیړی کی د کمونیزم آفت وو چی د مسلمانانو د عقایدو او مقدساتو په له منځه وړلو کی یی له هری ممکنی حربی کار واخیست او تر دی چی په ١٤ اسلامی ریاستونو یی خپته واچوله نظامی لښکر کشی یی پری وکړی او په سلهاوو زره دینی عالمان، واعظان او مخور مسلمانان یی په شهادت ورسول او د مسلمانانو مقدس ځایونه، مدارس، خانقاوی، جوماتونه او داسی نور یی باوران کړل او یا یی هم د خپلو فحاشیو مرکزونه تری جوړ کړل د مسلمانانو دارایی او شتمنی یی تری ضبط کړل او مسلمانان یی لاسکتویه او بل ته محتاج کړل، ددی تیریو په سلسله کی یی زمونږ په گران هیواد هم لښکر کشی او یرغل وکړ او زمونږ څه دپاسه یو نیم ملیون هیوادوال یی په شهادت ورسول او په ملیونونو وطنوال یی پخپل ابایی ټاټوبی پریښودلو مجبور او نورو ملکونو ته په هجرت کولو اړ ایستل، لله الحمد افغانانو د بی دریغه قربانیو په نتیجه کی د کمونیزم یرغلگری لښکری ماتی کړی او له خپل هیواد څخه یی وشړلی او د کمونیزم له افت څخه یی نړیوال بی غمه کړل.

په همدی روانه شلمه پیړی کی نړیوال استعمار له هر مکر او چل څخه په استفادی سره د مسلمانانو د توحید په مورچلو له هری خوا حملی وکړی تر څو دا کلک او نه ماتیدونکی مورچلونه مات کړی، کلیسا د مسلمانانو د تنصیر او مسیحیت ته د داخلیدو لپاره له مختلفو لارو څخه استفاده کړی خاصتاً په وروسته پاتی هیوادو کی چی هلته فقر، لوږه، مرضونه بی علمی او جاهلیت جال غوړ ولی پخپل مرام کی بریالی شوی منصرین ټول وخت په کمین کی دی پدی انتظار چی کله به د نړی په کوم گوټ کی جنگ، فقر، قحطی ، وچکالی، مرضونه او نور افتونه په مسلمانانو راځی تر څو هغوی له ډالرو په ډکو جیبونو او زرهاوو انجیلونو هلته ورمات شی او په یوه لاس د ډوډی لقمه او دوایی او په بل لاس هم صلیب او تثلیث د هغوی (مسلمانانو) په لاس کی ورکړی چی د همدی وسلی پواسطه د توحید جړی له بیخه وباسی، یو تن لیکوال عبدالرزاق د شمس الدین زوی د عربی نړی تبعه دی لیکی چی ما د افریقایی مسلمانانو د انجمن له نماینده سره مصاحبه لرله وایی په افریقا کی د مسلمانانو او منصرینو تر منځ مبارزه روانه ده او منصرین توانیدلی دی چی د مسلمانانو د تنصیر په لاره کی یو ملیارد ډالر له لوی پاپ څخه تر لاسه کړی او دا د افریقا د مسلمانانو د انجمن نماینده د زړه درد داسی بیانوی د نړی مسلمانان باید لدی مصیبت څخه خبر شی او زیاتوی چی پاپ ویلی دی په ۲۱۰۰ میلادی کال کی به د افریقا قاره د مسلمانانو له وجود څخه پاکه قاره وی او وگړی به یی ټول مسیحیان وی .

دا چی د افریقا قاره د نړی له وروسته پاتی قارو څخه شمیرل کیږی وچکالی ، فقر او جنگونو کی را گیره ده، هلته کلیسا د پاپ په لارښودنه له ټولو موجوده امکاناتو لکه مواصلاتی وسایل، نشرات، روغتونونه، کتابخانی، راډیو، تلویزیون، مدرسی او ورکشونونو څخه په استفادی سره مسلمانان مسیحیت ته اړ ایستلی دی.

یوه نشریه (بین الدول واقعات تنصیری) د ۱۹۸۷ م کال بنایر میاشت کی یوه خطرناکه احصایه نشر ته سپارلی چی د امریکایی منصرینو لخوا په دریمه نړی او اسلامی هیوادونو کی تطبیق شوی دا احصایه وایی چی پدی ځمکی کی ۳۷۰۰ نمایندگی لری چی د نصرانیت لپاره کار کوی چی پکی ۳۷٤۷۷۰۰ کارکونکی فعالیت کوی، همدارنگه له ۱۹۹۰ م کال مخکی ۱٦۲۰ راډیویی او تلویزیونی دستگاوی فعالیت لری.

کهنوت نصرانی چی عبارت دی له مجموعه د تصنیفاتو د هغوی لکه اناجیل، رسالی مقالی، فلمونه، سمعی او بصری رسالی چی د خلکو لپاره په ټوله نړی کی توضیح کیږی په همدی ترتیب د کهنوت موظفین یو ملیون منصرینو ته رسیږی چی دا شمیر نه او احصایه په ۱۹۸۸ م کال کی ٤۸ ملیونو تنو ته رسیده دا شمیرنه له هغو ۳ ملیونو منصیرانو څخه بیله ده کومو چی داوطلب ددی کار لپاره ملاوی تړلیدی د تنصیری مصارفو تمویل ۷۹ ملیارد ډالر ، کیږی اما هغه مبلغ چی ټولو تنصیری مسایلو ته اختصاص شوی ۱۳۹ ملیارد ډالر کیږی چی د نړیوالو د تنصیر لپاره تری کار اخیستل کیږی.

هغه اسالیب او لاری چی منصرین د مسلمانانو د تنصیر (مسیحیت) لپاره تری کار اخلی په لاندی ډول دی.

پاتی لری

په جرمني کې میشت هیوادوال د ...

پښتنو دود او دستور ګټي او کله کله د خپلې تیمګري اسلامي پوهي له امله د اسلامي امارت کره وړه غندي، او دوي په ګڼ شمېر د اسلامي امارت له مخالفینو سره و او اوس هم دي. دویمه برخه هغه هیوادوال دي چي هغوی د طالبانو پر تاریخي کارنامو لکه د اسلامي شریعت نفاذ، هیواد له ټوټه کېدلو څخه ژغورل، وسلې راغونډول، امنیت او د پت او ناموس ساتلو باندي ویاړي خو دوی ځنې تیمګرتیاوی هم په ګوته کوی لکه د جنګیو زده کړې ته پاملرنه نه کول، له کارو څخه د ښځو بندیز د تلویزیون بندول، او په نړیوالو اړیکو کښې له تعادل څخه کار نه اخیستل.

دریمه برخه هغه کسان دي چي هغوی د طالبانو سره یو ځلي کار کوي ټولتپال د دوی تګلاره مني خو د بدلون او اصلاحاتو غوښتونکي دي چي دغه نظام لا پیاوړی شي.

پوښتنه: دلته په افغانستان کي په ګرځېدلو، لیدلو مو څه احساس کړل؟ په ځانګړې ډول امنیتي حالات څرنګه ځېرې؟

ځواب: په هیواد کښي امنیتي حالت ډېر ښه دی، ډلې او ټپلې له منځه تلل، غله او شوکمار نشته شپه او ورځ ګرځېدل ډېر اسانه دی، خو د ګڼ شمېر هیوادوالو اقتصادي حالت ډېر خوار دی او یو شمیر د وخت او حالاتو له کبله ډېر بډای شوی کـه دوی د هیواد څخه د خپلو پانګو ایستلو پر ځای دلته فابریکې او کارو بارونه شروع کړي دا به د هیواد او هیوادوالو سره سخره مرسته وی اسلامي امارت هم باید په هر کار کی هیوادوالو ته د لومړیتوب حق ورکړي او د بهرنیو پر ځای پر خپلو خلکو د کار کولو سره د هیوادوالو تر منځ د ورورولی او پر مختګ فضا را منځ ته کړي.

پوښتنه: د ملګرو ملتونو او امریکا له خوا په افغانستان د اقتصادي بندیز پریکړه څه ډول ځیرې؟

ځواب: زه د سوال له ځواب څخه لږ څه بهر وځم لومړی غواړم د ملګرو ملتو د اداری اوسنی ماهیت وستایم دغه اداره لکه څنګه چی لیدل کیږی خپلواکه خو پرېږده دیموکراته هم نده د ملګرو ملتو په کړو وړو کښی ددغې اداری د وېټو غړی په یوازې ډول د پریکړو حق لری او دا حق امریکایان د خپلو ګټو لپاره په مشروع او نا مشروع ډول استعمالوی. د امریکا د استخباراتو د اداری یعنی سی آی ی له تایید او منلو پرته د ملګرو ملتو سرکرتر هیڅکله نشی ټاکل کیدای نو ښه به دا وی چی زه یو متل تیر کړم وایی: «زور چی د زور ور شی نو عقل مرور شی» د امریکا یانو زور او زیاتي له امله ملګري ملتونه هم عاجز دی او د امریکایانو په لمسون یې: غه ناوړه او نا حقه بندیزونه زموږ په ګران هیواد لګولی دي خو دغه بندیزونه طالبانو ته ستر خطر نه دی بلکه زموږ خوار او شرق او غرب اجګړ وځپلي اولس ته به ډیری ستونزی را منځ ته کړي. نو د ملګرو ملتو څخه زما پوښتنه د چی بر بیور لو قیمتی راوستل او بندیز نه: ی به کوم قانون او مذهب یا بشری ګلا د ګی [illegible] ی چی دوی زموږ په هیواد ولګول؟

د اسلامي امارت دا د [illegible] ډیر بشري مو ولیدل چی ډیر معروف [illegible] دی. د وخت کمنوالی او [illegible] مصروفیات دا اجازه نه ور کوی [illegible] وګرځېږل شی کـه څه هم په هیواد [illegible] ی د اقتصادی کمزوری له امله اداری [illegible] دی خو د خوښی خبره دا ده چی ما [illegible] او یوه کارکونکی ولیدل چې په کمو امکاناتو ډیر کار کوی او د دوی په خبرو او کړو وړو کی ورسره موافق یم او بریاوی ورته غواړم.

پوښتنه: تاسی د معنویت له فیض څخه هم برخمن یی او د مادیت څپو اخستي تهذیب او تمدن مو هم لیدلی نو دواړه تمدنونه څنګه ارزیابي کوي؟

ځواب: زه پدی عقیده یم چی معنویات او مادیات یو د بل سره تړلی دي په دی هکله رسول الله «ص» فرمایي چی د اخرت لپاره دومره هلی ځلی وکړی لکه چی همدا اوس مری او د دنیا له پاره دومره هلی ځلی کوی لکه چی تل ژوندی یی نو ددی څخه حرګنده ده چی له مادیاتو پرته بشپړ معنوی ژوند نه کیږی خو کله چي څوک یوازی معنویت خپل کړی نو ولی او بزرګ به وی او کـه څوک ټول زور مادیاتو ته کړی نو د ډیرو جرمنیانو په شان به یی د دنیا ژوند یو څه ښه وي خو اخرت به یی په خطره کی وی.

کمیشنر عالي سازمان ملل متحد در امور مهاجرین عازم قفقاز شد

ایګور ایوانوف وزیر خارجه روسیه موافقه خود را به دیدار مامورین سازمان ملل متحد از ناحیه بحراني چیچین اعلام کرد.

ایوانوف گفت ساداکوا وگاتا کمیشنر عالي سازمان ملل متحد در امور مهاجرین دیروز پس از انجام گفتگو هاي در مسکو عازم ققفاز شد و خواهد توانست در محل اطلاعاتي در باره وضع مهاجرین بدست آورد.

موضوع سقوط یك طیاره مصري در بحر اطلس به بررسي گرفته مي شود

کار شناسان که در ایالات متحده امریکا موضوع سقوط یك طیاره مصري را در بحر اطلس بررسي میکنند میگویند آنها تصمیم گرفته اند مسئله مذکور را به اف، بي، آي اداره تحقیقات آنکشور بسپارند.

این تصمیم هیئت کار شناسان این افواهات را تقویه میکند که شاید طیاره مذکور در اثر یك عمل خرابکارانه سقوط کرده باشد.

با آنهم کارشناسان گفته اند که قبل از رسیدن به نتیجه آنها جعبه سیاه و جعبه ثبت مکالمات طیاره را به دقت بیشتر مورد بررسي قرار خواهند داد.

محترم وزیر حج و ...

نظر بعمل آورده که از طرف وزیر حج و اوقاف کشور عربستان سعودي وعده هرگونه همکاري در جهت رفع مشکلات حجاج افغاني داده شد.

په ننګرهار کې په ...

حافظانو څخه یي وغوښتل چي د قران مجید د لوست او زده کړي په لاره کي هر اړخیزي هلي ځلي وکړي.

د غونډي په پاي کي د قران کریم د لسو تنو حافظانو د فضیلت پګړي وتړل شوي او د لوي خداي«ج» له دربار نه د دوي د لازیاتو بریالیتوبونه هیله وشوه.

نیرو هاي روسي ...

وجود ندارد با آنکه تهاجم دو ماهه نیرو هاي روسي بر چیچن از لحاظ انساني و حقوق بشر مورد انتقاد شدید قرار گرفته است ولي نیرو هاي مذکور کماني السابق به جنایات خود در چیچن ادامه میدهند قرار گزارش دیگر سادیکواوگاتا کمیشنر عالي سازمان ملل متحد در امور مهاجرین در اواخر دیروز وارد مسکو شد تا اوضاع را از نزدیك بررسي نماید.

سازمان ملل متحد به ...

بوسنیا شهر صربیبنستا را که تحت حفاظت سربازان هالیندي سازمان ملل متحد قرار داشت به تصرف خود در آوردند پس از پایان جنگ [illegible] هزار و پنجصد نفر از اهالي شهر مذکور در گور هاي دسته جمعي یافت شد و چار [illegible] و پنجصد نفر هنوز مفقود الاثر اند که آنها [illegible] نیز باید جزء مقتولین دانست.

بمنظور غنامندي ...

عبدالمتین نیازي کفیل ریاست اطلاعات و کلتور و رئیس رادیو شریعت ولایت بلخ ضمن آنکه در رابطه به مشي فرهنگي امارت اسلامي افغانستان و غنامندي هر چه بیشتر مسایل فرهنگي و ادبي در کشور صحبت نموده رسالت قلم بدستان را در شرایط کنوني برجسته ساخت.

بعداً چند تن از نویسنده گان ضمن آنکه همکاري شانرا در جهت باروري هرچه بیشتر فرهنگ اسلامي در کشور وعده سپردند مقالات شانرا نیز قرائت نمودند.

حکم اعدام بالاي ...

ناحیه ششم شهر کابل به تاریخ ۳۰ سرطان سال ۱۳۷٦ هجري شمسي شوهر خود را اسامي الوزي ولد علاو الدین به ساعت ۲ بجه شب ذریعه مارتول پنج کیلویي به قتل رسانیده بود توسط موظفین امنیتي گرفتار و بعد از غور و بررسي همه جانبه موصوفه در جریان تحقیق به جرم خود اعتراف نمود که بعد از فیصله محاکم ابتدائیه، مرافعه ولایت کابل و تمیز ستره محکمه و تایید عالیقدر امیر المومنین به مجازات اعدام محکوم گردید که بعد از ظهر دیروز در محضر هزاران. تن از هموطنان ما حکم اعدام بالاي موصوفه در ستدیوم ورزشي کابل تطبیق گردید.

در این اجتماع خلص جریان فیصله هاي محاکم ثلاثه و چگونگي طي مراحل اعدام قاتله توسط محترم الحاج مولوي عبدالباري رئیس محکمه حدود قصاص ولایت کابل قرائت و متعاقب آن حکم اعدام بالاي قاتله موصوف در محضر هزاران تن از شهریان کابل تطبیق گردید.

د کابل پوهنتون د ...

کلونو کی په پنځو مختلفو اختصاصي برخو کی یی زده کړه کیږی، نوموړی پوهنځی همدا اوس ۲۳ تنه استادان او ۳۷۰ تنه محصلین لری. د یوی پوښتنی په ځواب کی چی د نوموړی پوهنځی سره چا مرستی کړی؟ ددی پوهنځی رئیس وویل: تر اوسه پوری زمونږ سره یواځی د MDC موسسی یوه پایه کمپیوټر مرسته کړی او همدارنګه په نوموړی پوهنځی کی یو مرکز د (افغانستان د چاپیریال ساتنی) په نامه د داکتر عبدالولي وردګ په مرسته پرانستل شو او د بل چا له خوا را سره هیڅ مرسته نه ده شوی. نوموړی رئیس د یوی پوښتنی په ځواب کی چی تاسی په راتلونکی کی د محصلینو د علمی کچی د جګوالی په هکله څه تصمیم لری؟ وویل: دا یو مسلم حقیقت دی چی هره موسسه د خپلی ځانګړی ودی او پر مختګ په خاطر د چاپیریال د ایجاباتو سره سم پلانونه جوړوی او د هغه د پلی کیدو امکانات برابر وی همدارنګه مونږ هم د شاګردانو د علمی کچی لوړوالی په هکله انکشافی پلانونه په نظر کی نیولی چی د ځینو مواد و د نشتوالی له کبله نشو کولای ددی پروګرامونو د پرمختګ لپاره عملی ګامونه واخلو ددی پوښتنی په ځواب کی چی هغه کوم مواد دی چی د هغه په تر لاسه کولو به ستاسی پروګرامونه وده او پرمختګ وکړی نوموړی وویل: د لابراتوارونو فعالول، دنویو علمی کتابونو راوړل کتابتون ته، د تجربوی حیواناتو پیدا کول، د ځینو نیزو فارمونو فعالولو او په خاصه توګه دکمپیوټر زده کړه د یو مضمون په توګه د محصلینو په درسی پروګرام کی داخلول دی.

په پای کی د کرنی پوهنځی رئیس د هغو افغان علمی کدرونو څخه چی په بهرنیو هیوادو کی د هجرت شپې تیر وی غوښتنه وکړه تر څو هیواد ته راستانه شی او د جنګ ځپلی هیواد د بچیانو په روزنه کی زمونږ سره ونډه واخلی او خپله ایمانی او وجدانی دنده تر سره کړی.

محمد داود عمرزوی

د پکتیا ولایت د وزي ...

پدغي جامعه کي جوړه شوي وه لومړي د جامعه صدیقة العلوم مهتمم محترم مولوي ګلابشاه روحاني او یو شمیر چارواکو او ددغي ولسوالي عالمانو د کلام الله مجید د حفظ او تلاوت د دنیوي او اخروي ښیګڼو او فضیلت په باره کي خبري وکړي او په یو تن دیني عالم او د قران عظیم الشان په دیرشو تنو حافظانو بي د فضیلت پګړي وتړلي.

د ګډون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتني	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

تبصره

ما ایمان داریم که:

بعد از هر عُسر یُسر آمدني است

... و بالآخره به اصطلاح سازمان ملل متحد به فرمایش و فشار ایالات متحده امریکا تن در داده و تعزیرات اقتصادي خویش را بر علیه ملت مجاهد افغان عملي ساخته و همین اکنون مواد فیصله متذکره به اجراء در آمده است.

واضح است که ملت مجاهد افغان به جز آرزوي اعمار یك جامعه مرفه اسلامی در کشور خود کدام «جرمي» ندارد تا از جانب حکام امریکایي و دست اندرکاران ملل متحد چنین ظالمانه مورد اذیت و آزار قرار گرفته و مشکلاتي را در راه تطبیق نظام شرعي در افغانستان سر راه ما پدید آورند، البته ملت مجاهد افغان و جهانیان حقیقت پسند به این واقعیت کاملاً آگاهي داشته و آنرا یك عمل خلاف موازین بین المللي و بشري میدانند.

با اعلان تعزیرات اقتصادي بالاي افغانستان و عدم عکس-العمل مخالفت آمیز از جانب ممالك جهان در برابر آن ثابت گردید که کفر جهاني در تمام اقدامات و تصامیم خویش با هم متفق و هم نظر بوده و در مقابله با مسلمان حیثیت یك ملت واحد را اختیار مینمایند و شعار هاي آزادي، بشر دوستي خدمت به نوع بشر و حمایت ملل مظلوم در جهان همه و همه یك شعار و حربه سیاسي بوده و کدام واقعیت عیني ندارد اگر چه حکومت کلنتن و غیره مخالفان امارت اسلامي افغانستان در سازمان ملل متحد با شیوه خیلي ناجوانمردانه، غیر منصفانه، غیر علمي و غیر منطقي با ملت مجاهد افغان برخورد نمود اما ملت مجاهد افغان یك ملت صبور، با حکمت و صلح پسند بوده با همه قضایا و مصایب با طرق علمي و منطقي مقابله نموده هیچگاهي از چوکات علم و حکمت کنار نه رفته و جوانب هر نا هنجار را با عقل سلیم و استدلال منطقي ارائه نموده است همینطور اکنون نیز با تعزیرات اقتصادي امریکا و سازمان ملل متحد به نحوه علمي و اسلامي مقابله نموده و با صبر و شکیبایي کامل با آن برخورد خواهد نمود. هیچگاهي راه تفاهم و صلح را کنار نه گذاشته و جواب هر زورگوي را با ملایمت و تعقل اداء خواهد نمود که شاید این مدعیان کاذب صلح و بشر دوستي را در جهان خجالت زده سازد !!

چنانچه در این راستا مقام امارت اسلامي افغانستان منحیث عالیترین مرجع تصمیم گیري در کشور، استفاده از طرق تشنج آفرین و غیر علمي در برابر ظلم جاري ایالات متحده امریکا و سازمان ملل متحد را غیر قانوني شمرده و ملت مجاهد افغان را از براه اندازي تظاهرات که به نحوي از انحاء به تشنج دامن زده و یا بي صبري ملت ما را در برابر مصایب هویدا مي سازد، منع نموده و دشمنان اسلام و افغانستان را وقت مي دهد تا با خود فکر نموده وطرق منطقي حل مشکلات و معضلات را دریابند. واضح است که صبر و شکیبایي ملت مجاهد ما نصرت الهي«ج» را در قبال داشته و بالآخره ملت غیور ما از این آزمون سترګ الهي«ج» موفق بدر خواهد آمد زیرا خداوند«ج» خود فرموده که: به تحقیق خداوند«ج» با صابران است همچنان خداوند«ج» صبر و شکیبایي را یك وسیله مهم و اساسي دریافت استعانت خویش دانسته و بنده گان راستین خویش را به تعمیل این هدایت برازنده مامور ساخته است بناً مقام امات اسلامي افغانستان نیز ملت مجاهد خویش را به صبر و شکیبایي کامل دعوت نموده و از خداوند لایزال امید دارد که هر چه زود تر این آزمون بزرگ را بالاي ما موفقانه به پایان رسانیده و دشمنان ما را خوار و زبون سازد.

حکام امریکایي و یاران بین المللي اش باید بدانند که تتابع تعزیرات اقتصادي آنها شدید تر از وحشت ارتش سرخ در افغانستان و جنایات آنها نبوده و هیچگاهي ملت مؤمن ما را از پیروي قانون الهي«ج» باز نخواهد داشت اگر حکام امریکایي خواهان حل معضلات با ما هستند باید طرق منطقي و قانوني را جستجو نموده و آنرا دنبال نماید تا همه مشکلات از راه سالم آن حل گردیده و به بي ثباتي فعلي که در منطقه حاکم ساخته است پایان بخشند در غیر آن ملت مجاهد افغان مردانه وار از احکام دین خویش دفاع نموده و مظالم آنها را هرگز نخواهد بخشید.

SHARIAT WEEKLY
Published by:
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdurahim Saqeb
Printed by: Emirat Printing Press